مولانا قیام الدین خادم

درنو لوستونکو !

له نیکه مرغه اوس د پښتونولي د بشپړ کتاب، پی، ډي، ایف کاپي همدلته پرته ده.  د لیکوال تدبیر صاحب په مرستی او همکاری اوس ددغه کتاب په باره کې، د محقق او لیکوال استاد حبیب الله رفیع لیکنه هم لوستلی شی.

استاد رفیع داسی لیکلي دي:

پښتونولي د پښتني ټولنې هغه لرغونی مدني او جزایي قانون دی چې له زرګونو کلونو راهیسې له یوه نسل نه بل نسل ته په شفاهي توګه لېږدېدلي او د دې ټولنې نظم او امنیت یې ساتلی او سره له دې چې په ټولنه کې مسلط او منظبط حکومتونه نه وو خو خلکو د پښتونولی له لارې خپلې ټولنیزې اړیکې او دیموکراتیک اصول ساتلي دي.

د پښتونولی لومړني بنیادونه د لوی زردښت په «وندیداد» نومي اثر کې دوه نیم درې زره کاله وړاندې یاد شوي او همداسې په ټولنه کې زباد شوي دي.

د شلمې پېړی په لومړی نیمایي کې چې نظام د پښتنو تاریخي ارزښتونو ته پاملرنه وکړه، په دې لړ کې د پښتو ځینې سترګورو لیکوالو پښتونولی ته ځانګړې پاملرنه وکړه او څېړنې یې پرې پیل کړې، په ۱۳۱۷ لمریز کال اروابناد استاد ګل پاچا الفت په کابل کالنی کې د پښتونولی مقاله ولیکله، په ۱۳۱۸ کال اروابناد استاد پژواک پر ملي تعاملاتو یوه وړوکې رساله د یاد شوي کال په کالنی کې خپره کړه.

همدا وخت اروابناد استاد خادم هم په کابل کالنی کې، پښتونولی مقاله ولیکله خو ده دا کار وکړ چې دا موضوع یې پسې وغځوله او په ۱۳۳۱لمریز کال یې پښتونولي په ۲۰۴ مخونو کې د یوې کوچنی رسالې په توګه له پښتو ټولنې څخه نشر کړه، بیا یې خپلې څېړنې نورې هم ژورې کړې او په ۱۳۵۴ کال کې یې د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د نړیوال سمینار لپاره د پښتونولی رساله نوره هم غني او پیاوړې کړه او د یوه کوټلي قانون په توګه یې مطرح کړه.

په پښتونولی کې د ژورې مطالعې له امله اروابناد استاد خادم د ملي ایډیالوژی د تیوریسن په توګه رامیدان ته شو، د افغاني ناسیونالیزم مانوفیسټ یې ولیکه، د افغان ملت او افغان ولس نیشنلیستي اخبارونه یې راوایستل، له ملي تاریخ نه یې لرغوني پښتانه قومونه استخراج کړل او په دې ترتیب په داسې حال کې چې هېواد ته د شرق او غرب ښکېلاکي ایډیالوژی راغلې وې ده ملي ایډیالوژی خوان نسل ته وړاندې کړه او په دې لاره کې یې پاخه ګامونه واخیستل.

اوس چې استعماري ایډیالوژی په هېواد کې په قوت او خواک کې دي، ضرورت دی چې خوانان په ملي ایډیالوژی سنبال شي او د اروابناد علامه خادم کتابونه په دې لاره کې رانه مشالونه دي.

دا دي دلته د ده د پښتونولی وروستنی شکل چې د ده په خپل قلم راپاتې دی وړاندې کېږي، فکر یې دې تاند او اروا یې دې ښاده وي!

څېړنوال حبیب الله رفیع

د افغانستان د علومو اکاډمی سلاکار

۱۷/ ۶/ ۱۳۹۹

خادم

# پښتنولی

پښتنولی دعربی کریمر په اصطلاح جعلی مصدر دي دد پښتو کی پښتنولی معنی داده:(افغانیت یا افغان کیدل) په پښتو کریمر کښی د نوم دی پښتنولی معنی مشتقه کلمه ده. ځکه چه په آریائی ژبو کښی له یوی کلمی بله جوړول یا اشتقاق کول د سروند پسوند(پریفیکس او سفیکس) په واسطه کیږي. دلته هم(ولی) پسوند یا سفیکس دي. چه د پښتون د کلمی پوري یو ځای شوي او دمعنی اسم یی تري جوړ کړي دي.

پښتون دقام او ملت نوم دی. خو چه وو ایو (پښتنولی) نو معنی یی ده: دپښتون د کلمی تول هغه محتویات معنویات او صفات چه یو شخص و ر باندي متصف شی نو پښتنولی بولی.

ددینه دانتیجه لاس ته راځی چه دپښتنو یعنی افغانانو قومیت د دنیا دنورو قومیتونو پشان یوازي د نسب سلسله نده بلکه دا خلاقو ضابطه هم ده. که څوك سل کرته هم د نسب سلسله پښتون ته ورسوي پښتون به نشی. خو چه دپښتنولی په صفاتو او اخلاقو مزین نشی. دپښتنو فلسفه وایی «قومیت داخلاقو ضابطه ده نه د نسب سلسله!»

هر کله چه پښتنولی او افغانیت دپښتون او افغان د صفاتو او ممیزاتو نوم دی نو د پښتنولی په معنی [illegible] (پښتون) کلمی په معنی پوه شو.

پښتون کلمه هم لکه پښتنولي مشتقه ده (ون) صفتي پسونددی یعنی داسم نه یې صفت جوړ کړي دي . لکه چه وايی : فلانی پښتون سړي دي يا داچه فلانی هيڅ پښتون نه دي. نو اصل کلمه (پښتو) پاتی شوه.خو پښتو هم دآريايی ګريمر داشتقاق له مخی جوړه شوي کلمه ده. ځکه چه (و) نسبتی پسونددي . نو دپښتو معنی شوه(پښت ته منسوبه ژبه يااخلاق!) نو دپښتو نه پښتو او له پښتو څخه (پښت)لاس ته راغی .پښت ديوه تاريخی قام نوم د ي !

دپښت کلمه : چه د(ښ)فونيم په لحاظ چه تاريخی قدامت لري په دو لهجو ويشل شويده : (پخت۔پکت) او دهندي تلفظ پر اساس (پکهت) هم و يل شويد ه . نو اصلی کلمی دزمانی په تيريدو څلور لهجی پيدا کړي دي(پښت۔بخت۔پکت ۔پکهت) دپکت په باب زما عقيده داده چه داتلفظدسکندر له را تلوو روسته ديونانی لهجی په لحاظ عام شوي دي . باکتريانا ۔پکتيا،پکتيکا ديونانی مورخينوله قلمه مونږ ته را رسيدلی دي . البته (پکهت) چه (کهـ)فونيم پکښی دي د سنسکريت د فونولوجی له بقاياو څخه معلوميږي د (پخت) نه (بخد) او يا (بخدي) جوړشويدي .

د بخد ي کلمی دژوندپه و اسطه زيات شهرت وموند .

دغه بختی او ښانو د نامه سره تراوسه په پښتو کښی رواج لري . بخدي دام البلا د بلخ هغه نوم دي چه دژوند په نصوصو کښی ترنن ورځی ساتلی راغلی دي . زمونږ ليکوال داسی فکر کوي چه له (بخدنه بخل ۔ او بيا۔بلخ) د تورو په وړاندي وروسته کيدو جوړ شوي دي . باختر او باکتريانا د (بخت او بکت) نه ساز شوي دي .

دلته دبلخ يو بل نوم هم شته چه ترټولو پخوانی دي . دانوم (بلهيکا) دي د دي کلمی اصل د (بل) لفظدي .چه دجرقی په معنی دي . د(بل ۔بلك ۔بلکه ) نه (بلکا او بلهيکا ) جوړ شوي دي . دااسم هغه وخت راياد وي چه دايند وکو ښ دشمالی سيمو خلکو لوړي ځل د (اور۔ بل ځل ۔بلك) وليد. دبلك نه ساميانو (برق) جوړ کړ . سومير يانو دا کلمه د ځانه سر بابل ته يووړه .او هلته يی په دي نامه د ( UR اور) ښار جوړ کړ . دا اور وروسته (فور۔او۔فائر) شو همدا او رچه (هور) هم و يل کيږي د(خور) مبدأده. چه په ( خورشيد) کښی ليدل کيږي .داور په ليدلو خلك داور د مبدي په فکر کښی شول .او داو ر په عبادت ولګيدل . (خير خانه ۔خور خانه دبوډيالی سورچ ۔سورج ۔دسز اردری شو ،شو ماش چه د

بابل دشو ماش سره ربط لري ډيري وړاندي زماني رايادوي!) دانو مونه د نمردعبادت دعصر دي .
داتولی خبري د (پښت) پوري رايادي شوي. دپښت کلمه اوس هم په پښتو کښی
مستعمله او موجوده ده . لکه چه وايي (نه دچاله پښته يی !-ياداچه شهاب الدين غوری
په ٥٣ پښت کښی ملك سهاك ته رسيږي.) دپښت اصل معنی نشی معلوميداي. خود ومره
ښيخی څرګندوده چه دپښت په نامه په ويدي اوقبل التاريخ عصر کښی دآريايی رواياتو
له مخی يو ډيرلوي قوي مالدار ايماندار قرباني ورکوونکی بهادر زړور او ساهو قام
ياد شوي دي . نوترڅوچه په علمي اوتاريخی لحاظ پښت قام او دهغو ژبه اوسجاياو نه
پيژنو نوځنګه به پوه شو چه پښتون يعنی دپښتولړونکی څه معنی ! نوښايی چه دغه پښت
چه د پښتو پښتون پښتنولی اساس دي وڅيړو :

په ۲۰ زره ق م عصر کښی چه دمصر دکلکول پتيك ددوري دظهوره عصر دي .آريايانو
دخپل قبل التاريخ ژوندلوسړنی اعصار دآريانا پخا وره کښی تيرول کوم علمأ چه
د آريايی تحقيق بوخت دي . وايی چه په ۸ زره ق م کښی اصلی آريايی ژبه
د ټولو آر يا يی ژبوموروده په باختر کښی ژوندي اورايجه وه د اوستايی منابعو
څخه معلوميږي چه آريايانو په ٥ زره ق م کښی دواورو اويخنی په سبب له آرياناويجه
څخه مهاجرت وکړ . د سوغد يايی او مروي په لاربخدي ته راغلل . او دلته
دی زره کاله پاتی شو. ځمکه پری تنګه شوه نو په ۲ زره ق م کښی څه دا يند و
کو ښ شمال خواته اوڅه يی جنوب ته ولېږ د يدل ددغه مهاجرت په وخت
کښی (پښت نوم) په صراحت سره يادېږي زمونږ تاريخ پوهان په ۲ زره ق م کښی
چه دهند پرخوا دمهاجرت وخت دي دوه قامونه په ډير اهميت سره يادوي ( پوبهارت
اوبل پښت په بطرت ـاو ـپارت) کښی فرق تش دسپين سترګی (ه) او ( ب ـ پ ) دي
سپين سترګی هی دهندي لهجی نښه ده چه په ډيروتور وپسی يی زياتوي که دانه وي
د ( بارت ـ او ـ پارت) څه فرق دي ! همدارنګه (پارت ـاو پارتيا) وبيتون په د برليك

---

او هلته يی په خپل نوم(پارتيا) جوړه کړي و .
دلوړی هندی اروپايی مهاجرت عصردي .

کښې په (ت) نه‌دي بلکه په (ث) سره د (پرثو) او-(پارثیا) په صورت راغلی دي پارت د (پارس) سره نښلوي . نو (بارت -پارت -پارس) دیوي کلمی یایو نوم مختلفی او بیلی بیلی لهجی ښکاري . پارتیان په یقین ډول د پښت د کور نی خلك دي .پارتیاپنځه سوه کاله یو متر قی دولت وچه خپله ژبه همد غه شان کشا تر په او تور کشه خالك چه له ویدی عصره څخه یی دیفتلیانو د اسپراطوري پوري په ډیرو مواقعو کښې یادکیږي‌بی له تورکښانو او دغه بهادرقوم څخه بل څوك نه دي !

دپښت ټبر: دو یدي مشهور وقبائلو دباختري کتلی له جملی څخه دي . خپل مهاجرته مخکښې په باختر کښې هستوګن ود۲زره ق م دمهاجرت پوخت کښې په دوه بر خو وو یشل شو. یوه برخه‌دلس قبیلو په جمله کښې دآیندکو بن‌جنوب ته را ښکته شو. او د آریانا جنوب شرقی سیموکښې ودان‌شول . او دغه سیمه یی په خپل نامه پکتیا مسمی او مشهوره کړه دغه قام هغه‌بله‌برخه چه په باختر کښې پاتی شوي وه دغو دو یدي اوستایی مدنیت زمانه په باختر‌کی‌تیره کړه اوله دغوڅخه پارتی قبیله دغرب خواته‌تللی او هلته‌یې په خپل نامه پارتیه جوړه کړی وه. د ق م ددریمی‌دیړی‌په نیما یی‌کې پښتانو دپارت دقبیلی یو مشهور شخص چه ارساس یی باله. دغرب په لورد پارتیا علاقی ته ولاړچه دخپل قام ځینی خلك ورسره وو او هلته یی د پخوانیو او اوسنیو عزیزانو په مرسته شاسی یو یانیانو په مقابل کښې دخپلواکی اعلان وکړ . پارتیا په خپلو جغرافیایی حدودو کښې د۶۰۰ ق م نه ډیر پخوا د آریانا دډیر غربی ولایت په حیث موجود ه وه .

پارتیا دغرب له پلوه دخزر دبحیري په غاړه یا دقبیلی دولایت سره لګیدله . ارمنی منابع وایی چه دوي به پارت ته (پهل) ویل .دپارت یوه بله څانګه (پهلوا) یاده شو یده چ له دغو څخه فکرفورا د(پهلوي) کلمی خواته ځی . دهیرو دوت د معلوماتوله مخی د (پښتانو) یوه بله څانګه بوره هم پسی غرب‌ته ولاړه . اودارمنستان په لمرپر یو اته کښې یی‌واړو ل.اودغلته‌یی‌هم‌ځان‌ته(پکتیس) یا(پکتولیس) وویل.اودغه‌خاوره‌په(پکتیګا)مشهورکړه.

---

دکهزاد دافغانستان دپخوانی تاریخ اول جلد .

د ا باید هیر ه نکړو چې ذ کر شوي ار ساس ښر د ار شکپ په نامه هم یادشو یدي چې دمو جو دة تر کستان (عشق آباد) مرکز دځینی محققینو په اندله ارشلک نه (اشک) او (اشیک آباد) نه عشق آباد شوي دي ځکه چې دغه سیمه دپار تیاجز ده .

د هیر و دوت پکتیکا یا پښتیخا دجغر افیې په لحاظ هماغه ساحه ده چه نن و رته پښتو نخوا وایی . او پرون روه بلل کیده . داځکه په ځینو تعبیر و نو له هر اته تر سو اته خپره ده. جنوب حدیې دکابل سیندتها کی. او په ختیځ کې یې اباسیند بهیری کسی غر او سپین غر یې په منځکښې پر اته دي !

هیر و د وت وایی په پکیتا کې څلو ر قامه هستو ګنه لري.

۱- ګند اري ۲- پار یتی-۳-ستا ګیدي ۴-دادیك .

ګند اری همد اکندار یان چې د و یدو نو له و خته همد غلته او سی. اپار یتی اپر یدی چه نن په تیر ا کی پر اته دي . ستا ګیدي دسلو غو او یاسلو سیر و خاو ندان چې پخوا په ډیره لو یه سا حه کې پر اته او ډیر و و او نن دپښتو نخوا دجنو ب شر ق په یوه کو چنی سیمه کې محدّ و دشوی دي ختك دي. چې یوه قبیله یې شیتك بلل کیږي. ختك شیتك کلکه لهجه ده. له شیتك څخه (سیتی) زیږ یږي شك نشته چې دوي ساك دي. دادیك د هیر و دو ت په تحقیق پښتا نه دي .

بهارت قبیله: دار یا یې مهمو قبیلو له جملی یاد کشاتر یه په تو ر یالی قام له مهمو قبیلو څخه یوه ده .(ك ق) ج ص ۱۸) کسشاتر یه یا کشتري چې د تو ر کښ سقلو ب دی تل د پښت قام صفتی نو م یادشوي دي.

دلس ملکانو په جنګ کې چې (پښتان) دڅلو ر نو ر و ملکر و قبیلو په اتفاق د نو ر و پنځو قبیلو سره و یسو اسیتر اد تبلیغ له مخې په یو ه متحده جبهه کې و در یدل دغې جبهې د بها رت د لیت دسو داس ار یا یی پادشاه په مقابل کې چې مخکې هندته راغلی و تقو یه کړ. هر کله چې بهارت قبیله زو رو ره او قوی و ه هندیی اشغال او په خپل نامه یی (بهارت و رته) مسمی کړ «و رته» د (و رشو) په صو رت چې مال خړ ته وایی په پښتو کې شته. دلس ملکانو جنګ دلس پادشانو و (ملك) هغه و خت تر غو ر یانو پو ری دی پادشاه معنی و.

چې په پښتنو کې تر اوسه مو جودي . په لر تغییر سر ه یی ته تللی د ي

بن ظفر و ائی : یادو کړ و پ دنیکه انا پنځو قبیلو نو م دی. چه تور و اشا قبیله هم په کې

وه دغه ګر وپ دپکتها ګر وپ دپښتو قبیلو سره په خپلو کې د یو نسل- یوې عقیدې او یوې ژبې خلک وو څرنګه چې یادو ګروپ دپارسوا سره تړلی پاتې شوی ده. دغه رنګ په پکتها (پښت) ګروپ هم دپارسو سره بوطوو. دغه تاریخي (پښت) اوس هم د پښتنو په هیواد کې موجود او مستعمل دی لکه

(۱) دپښتون کلمه چې له (پښتنه) د پښتو په واسطه جوړه ده (۲) دبلخ بخدي او باختر رائجې کلمې هم له (پښتنه) سازي شوي دي (۳) د کونړ او باجوړ د پښت هم (پښت) له بقایاو څخه دي. (۴) دفراه د (پښت) رود د (پښت رود) دسیند په لحاظ. چې (پښتانو) له تاریخي نامو بې غور څخه راځي (۵) پکتیا خو هم په اصل کې (پښتانه) ده. (٦) پشین هم د (پښین — او پښتین) څخه جوړ نوم دي .

(۷) بخدی هماغه (پښتي او ښان) دي چه د بخدي په واسطه پښت ته رسیږي. (۸) دبلو چستان (بګتي قبیله) په اصل کې (پښتی) ده (۹) دساسانیانو د کتیبو) پشکاپور) او (۱۰) پشکالاوتی — چې اول دپښو راو دو هم دچارسدی نوم دي. په دواړو کې (پشکا) اصلا (پښکا) دي چه دقدیم (پښت) کوم صورت دي (نوی لار).

**دپښت او پښتون مترادفات :** چې افغان او پټان کلمات دي. په دغو کې ډیري خبری شوي

---

چې علمی بنیاد نه لري. دادواړه کلمې ډیري لرغونې دي. افغان دبیتون په کتبیه کې د ناپګان ګان په شکل راغلی دي. پټان په اصل کې په تان — یا په تون) دي. همزه په (اپه ګان) کې نافیه ده. په پښتو کې د (ګام) په صورت موجود دي چې تګ ته وایی. نو (اپه ګان) (نه په تګ) شو. معنا یې دا شوه چې (پښتون هغه قام دي چې (نه په ګام یعنی نه په تګ دي. بلکه په تان — او — په تون دي.) حاصل دا چې پښت او پښتون قام دمهاجرتونو په وخت کې په خپله خاوره غیرت کړي دي. تګ او مهاجرت یې نه دي خوښ کړي او په (تان = تون = وطن) پاتې شوي دي .

تل لی سختی سپوري او مشکلات ئی ګاللی دي. دا قام دهمدي خاوري وفادار فرزند دي . او وي به. دپښتنو دپاره دغه تاریخي افتخار چې دافغان او پټان په کلمو کې محفوظ دي . ترابده بس دي ! ! !

**پښت په اول سر کښې څنګه منشعب شو •**

---

دپښتنو ورو ستنی تاریخ او نسب نامی عربو له قیس عبدالرشید نه شروع کړي دي او نورو دعربو په تقلید دادرس ښه ضبط کړي دي خو دمخکی تحقیقاتو له مخې د اتاریخ

ډير و ړاندي تير يږي .نو او س هر سړي پو هيدي‌شي‌چې دقيس عبدالر شيد افسا نه په علم اتكأنه لري په تاريخ كې پس‌له (پښتنه)دوه‌لوي قاموونه ليدل كيږي چې‌دواړه‌د پښت‌لـه تكومه دي. يو ـساك‌ـ سهاك. بل ـ كاسي.

په تاريخ كې‌دغوريانو سلسله‌ملك‌شنسب ته‌رسيږي.دشنسب يعنې‌د(شين‌اسپ)خاوند كړي په (سوړ ـ او ـسام ) پوري تړلی‌ده. دسور او سام‌نسب(ملك سهاك)ته رسيږي.ملك سهاك هماغه‌شخص‌دي‌چې دجمشيدمعاصر اوانډول‌ښودل شويدي مگر سهاك چې كوم وخت‌پر جمشيدغالب‌شو مركزيې‌په باميانو كې ونيو . لكه‌چې‌همدا اوس‌هم دسهاك دښار كنډوالې‌په باميانو كې‌ليدل كيږي.عربو سهو أسهاك ضحاك‌بللی‌دي. او چاورته ضحاك ماران‌و يلې‌دي‌دغوريانو،سوريا،نولوديانو كورنې‌قومونه‌او ټپې‌ـاوغلجيان‌هم‌دتول تاريخ سره سهاك‌دي ـاوملك سهاك ته رسيږي‌سهاك كير مرث(گومرد) سره‌چې مجسمه يې‌په‌سنديانه كې پيدا شويده ربطلري او ان‌باباآدم(ع)ته رسيږي. ملك‌سهاك باختر دناستو باچا(ياما) نژدي خپل دي‌ښه‌نوچې دادواړه‌په نسبې‌خپلوي‌تړلی‌دي‌او يو (پښت) شې‌په‌بل كې ځه وو ايو:

دغلجيانو په الحاق‌باندي‌به‌په سهاك پوري‌ځينې كسان‌وتو ريږي‌مگر لږ تأمل په كار دي.غوري‌له(غور ځخه جوړه‌شوي كلمه‌ده( غور) د(غر)يوه لهجه ده.دارنگه‌په(غلجې ـغلځی) كې (ل)د(ر) په بدل كې راغلی‌دي .نو (غرجې‌ـغرځی)پاتنه شو. (جې‌ـځی) د (ځاي)په معنې‌كې يو شې‌دي‌له‌بلې خوا(ځی)د(زوي) معنې‌هم ور كوي. نو (غرځی) يادغره دځاي‌اوسيد ونكې‌دي‌يادغره زوي‌دي.لكه( كهزاد)نو دتحقيق له مخې ( غوري او غلجې يوشې دي)زمونږ په تاريخې وطن (آريانا پښتيانا) كې د(غر)په مناسبت اوس هم‌ډير نومونه‌شته‌چې‌د(غوري‌ـغلجې) تائيد كوي لكه(غور ـغوري‌ـجاغوري ـغوري غوريږي‌ـغوريا، غورياخيل‌ـغوربند‌ـ دهنه‌غوري‌ـغورماچ ـغوريان‌ـ پيش غور ساغر ـسپين غرـ لوگرـجبل‌الزورـسورغرـتورغرـ سياگرد‌ـسياغرـ او داسې نور چې تفصيل يې‌په‌هغه كتاب‌كې دي‌چې دسيمينارله‌خوا چاپيږي . او دادهغه لنډيز دي .

ساك‌تبر :

---

په تاريخ كې (ساك او سهاك) كلمه يوشې او كله بيل بيل ذكر شوي‌دي‌خو دي‌يوشې

د لته په ساك ځېږ و، د مسکو د اکا ډيمی علما وا يی ( ساك ز ر کاله مخ کی لهمیلاداو ز ر کاله و ر و ستهله میلادهپه دو ه ز ره کلن تاریخ کی دتو ري بحيري نه د هند د کوجرات کاتیاواراو د پامیر دلوړ و څو کو څخه و رهاپلو- له کا شغر خو تن تیان شان او دساتیر یادفلاتله منځ څخه-دشطالعرب او دهند دریاب پوري په دي لو يه ځمکه خپو رپروت و.» په شمال کی تر والکارسیدلی و و.داهماغه ساك دي چی په پنځه ز ره مخ کی تاریخ کی يی نوم د( جمشید)سره یوځاي یادشوي دي خو هلته د شخص په نامه او دلته ر و سی منابعو دقام په نامه ښو دلی دي. روسی منابع وائی چی« دساکو اصلی هیواد افغانستاناو داپند و کو بنلمنی دي بیاله دي ځایه دخپلو رسو کو ومو پادو غیلو او گلو سرههر پلو خپاره او دلو یو حکو متونو او شاهنشاهیو په جوړولو موفق شول . او څو ک چی په خپل هیو اد پاتی شول(مر کزي ار یایان) و بلل شول»ساك په تاریخ کی په ډیر و نومو نو یادشوي دي چی دسیمینار په اصل کی يی مادیرش نومونه راوړي دي. دروسی علماد تحقیقاتو له مخی په دغو ټولو نومو نو کی اصل کلمه (ساك) ده یو چی تخار-سیتی سکائی پهلوا اسکائی کوشانی يفتلی د کابل راپانو پوري غو ندېدساك یعنی ساك له ټبره دي. ز مو نږ پښتانه محققین(دله ځاك) ډلهسهاك گڼی.چه د پيښو ر په هزاره ضلعه کی تر کشمیر او پنډی پوري پراته دي. چی داکتر و ژ بهلاو س هم پښتو ده. تو ر ولی د شهو سین هم له دي قامه و .ساك یا سهاك په لومړي مهاجرت یعنی اپند و – اروپائی مهاجرت کی چي دغر ب او جنوب خو اته شر و ع شو او لاتین سلت جرمنی او سلاو قو مو نودار وپاخاوره و نیو له نو دوي (سهاك ټبر ) ځاي پر ځاي په خپله خاو ره پاتی شو ځینی خلك چي په دغه مهاجرت کی باختر ته راغلی و و. هغوي خپل ځان(ار یایی او خپل مسکن يی(اریانا) و باله. دغه ډو رچي په اریانا و یجه کی پاتی و و ،ورو سته دوي هم په حر کت را غلل ځینی یـــی داو رال دغرو خو اته خپاره شو ل او ځینی یی دسر دریاحوزي دشرق خو اته د تیان شان غر و له تیر یدو و ر و سته د کاشغر علاقی ته و رننو تل. او له دغه ځایه یی ټو ل شرقی تر کستان د کو نچی قره چار او تو ین هو انګ ناوي تر کانسو (په چین کی دي) پو ري اشغال کړي. او د چین د خاو ري سره یی ټکرو خوړ.

د غر ب پلو ته یی دتو ري بحيري او خز ر شمالی بر خی و نیو لی.داو رال د غر و پو ري مخکی

ولاړل دشر قی ارو پادښاهکو سر ه و لګیدل. در و سی جنو ب چې و ښیلنه ځمکه ده ددوي په نامه (سیتیا ) و بلل شوه

همد غه شا کې قو مو نه خو خو ز له بیر ته دسر در یاحو زي او باختر ته را غلی دي کله په یو نامه کله په بل نامه ځکه نو مو رخین په اشتباه کښې لو یدلی. سا کو او ددوي دقبیلو په باب یې ګڼې و ډي نظر یې لیکلی دي .

و ایی چې کو م و خت دوي دغر ب و خو اته داصلی ټاټو بی په لو مړي ځل وخوځیدل سو مير یان یې له سو غدیا یی ښخه بیځایه او په مهاجر ت مجبو ر کړل. چې له دي حادثې ښخه د مهاجرت نیټه ۷-۸ زره ق م اټکل شي. هغه سا کۍ چه دسنکیا نګ او کانسرخواته تللی و و-. ۳ کاله هلته وو.

ظفر د خپل تار یخ په ۲۲۰ مخ کې و ائی: «ساک او پار تیان دیو مقام دو ه قبیلی دي» پار تیان خو پښتانه دي. نو ساک په خپله معلو میږي. د افغانستان (سیستان او سجستان) ددوي په نامه دي. دسا کو په نومو نو کې (سی See ) او ( سګه ـ سجه) هم شته.

تخار یان چې دسا کو مشهو ره قبیله ده مو ر خینو (تو خارا) هم بللی ده په کانسو کې یو ښار د (تو ګارا) په نامه مو جو دو بطلیمو س دو ر ینیمو دلوی لاري په سر د (تو ګارا) دښار له و جود ښخه بحث کوي د غه (تو ګا را Togara ) ښار وي او که کام بی له (تګاو) او تکا یانو ښخه بل شی نه دي

د یفتلیانو په باب ډيري بیفکر ه خبري شوي دي اما یفتلیان په قطعی ډو ل یو چې سهاک دي .

داچې سنسکر یت و ر ته (سیتا او نا-او-شو تا هو نا) و یلی دي. چه معنی بې — سپین هو نز دي.

نو په مو نږ یې ښه تار یخ په ډاګ و ایی چې (هو ن) دیو چیانو مخالف مغو ل تکو م و. او

---

په مو جو د ه افغا نستان کې سها ک قو مو نه:

پرته له غو ر یا نو سو ریانو ، لو دیانو ، غلجیانو او دله ځا کو ښخه د کوسین، توتا خیل- مو سه خیل - کو ندر خیل . دو ز بین، میر علی خیل -د پغمان او میدان او ر یا خیل، ابر اهیم خیل او کادی خیل. او همدارنګه د کامې ابر اهیم خیل-دسر ه ورد خدر خیل -د کو ر ګلګر -دغز نی اندړ د کابل (تره خیل-تو ره خیل) د زابل او کندهار تو خي-هو تک-د کابل دشیو کیو سهاک د اتمول سها ک دي.

یفتلیان ارین او سهاک دي. ابدالیان یفتلیان بلل ښه دو سره بده نه ده مگر یفتلیان (هون) ښودل لو یه علمی گناه ده. چه تلافی یی په اعتراف کیدیشی او بس! و تبیلان د کوشانو یفتلی ښاخ ته رسیږي پس له رتبیلانو نو بت اسلام او دغوریانو او غلجیانو سلاطینو ته رسیږي چې فغانه لري.

دپښت دو هم ښاخ پس له سهاکه ـ کاسی دي. راځی چې لږ په کاسی غور و کړو: د کاسی نوم دق م په (۱۷۰۰) کی تاریخ ثبت کړي دي چې په کرمان کښی موجود و گوردان هم و رسره و و هغه استنباط چې له عتیقه آثارو شویدي و ایی:

دق م په ۸—۹ زره عصر کښی چه دار یایانو د لوړي مهاجرت نیته تخمین کیږي کاسیان دسائبیر یاله لوړو سیمو ښخه دخزر دبحیري لو رته راوخو ځیدل له کومه ځایه چې راغلی و و هغه ځای ددوي په نامه (کانسک) نومیده. چې تراوسه هم په همدغه نامهٔ شهرت لري. ددوي عادت و چې چیر ته به او سیدل هغه ځای به ئی په خپل نامه مسمی کاوه. نو ځکه د خزر د بحیري په غاړو چې چیر ته ـ او سیدل هغه ځاي ته او س هم (کاسل) وایی. او پــه نقشو کی شته په ق م (۱۷۳۵) کی دوي دخپل مشر گانداش تنزا داري لاندي بابل فتح کړ. او تقر یبأ (۵۷۳) کاله ددوي (۲۶) بادشاهانو له گانداش ښخه تر (لیل نادین رهه) پوري په بابل حکومت کړي دي. بیا و روسته اشوریان او عیلامیان و رته یوه جنبه شول او دوي ماتی و کړه داوخت هم کوردان و رسره و و. دغه وخت دشط العرب خواته و لاړل. تر دي و روسته تاریخ لږ تت دي. په ۳۰۰ ق م کی ددوي هستوگنه په ایران کی ثابته ده. بیانو په بلوچستان کښی راښکاره شول د کوتی په علاقه کی چی کاسیان پراته و و د (کند) او (زمند) په نومونو بیلیدل. چی دوه قبیلی دي. داقومونه و روسته کوتی او بیا ژوب ته راغلل. و رپسی د (کسی غر) یعنی دسلیمان غره په درو کی خپارهٔ شول. او داغر یی په خپل نامه (کسی غر) مسمی کړ.

ساکی او کاسی: که له سهاک ښخه (ساکی) و منو. نو (ساک او کاسی) بیخی نژدي کیږي،

---

او که دنسبت (ي) و رنه و غو رځوونو (ساک ـ او کاس) پاتي کیږي چه بي دتو رو له مکانی قلب ښخه نو ر فرق نه لري.

داسا ته ډیره ګرانه ده چې و وایم ساکی قام سخکی دي که کاسی. خو دا یقین ته ډیر نژدي ده چې و وایو په اول سر کی دوا ړه یو قام و. و روسته بیل شویدي. ددوا ړو قامو نو تاریخ زر ګونو کالو ته رسیږي. دوا ړه قامه پښتانه دی. چه سو و نه قبیلی او ټبرونه لری.

ساچې د پښتنو دقوسو نو په باب کوم فکر کړی د په لاندی رباعی کی سی راوستی دی.

پښتون په اصلی کښی ټول غلجی دی — له غره پیدا دی دغه ئی ځی دی

د پښت له پښته را ټو کیدلی — که ځو کڅسها کڅدي او که کاسی دی

د کاسی دغه تاریخی نوم ترڅنګ پوری د غرونو د ریا بونو قومونو او سلکو نو په نومونو کی ژوندی پاتی دی.

۱ — دافغان د الیشنګ دری پر سر کی (کسیګر) دیوی قریی نوم دی چې هلتــه په تیرو پخوانی لیکڅ او تصاویر شته چه نه دی لوستل شوی. البته کسیګر (کاسی غر) دی

۲ — دکو نړ د (ګورېکڅ) نه لږ برد (کاشکوټ) کلی دی. دا کاشکوټ هم (کاسی کوټ) دی

۳ — د کیسپین مشهوري بحیری په نوم کی هم اول جزء کاسی دی.

۴ — دا سو په پاسنی برخه کښی چه کوم سیند (کاشیکڅ) نومیږی دا نوم هم له کاسی جوړ دی.

۵ — کسی غر — دسلیمان دغره نوم دی دا هم د کاسی په مناسبت دی.

۶ — قفقاز په اصل کی (کفکاسی) دی. چې کاسی پکی خر ګند دی.

۷ — کشمیر — د کاسی او میر نه مرکب دی.

۸ — قاشقار — کاشکار — کاسی کر — او کسیګر دی. نه بل څه !

۹ — کاشغر — خو پخپله (کاسی غر) دی.

۱۰ — کانی — په نورستان کی دیو مشهور قام نوم دی. چې یی له (کاسی) بل شی نه دی. دغه علاقه ډیره سو ده د کاسیانو د حکومت لاندی وه د نورستان مجسمی چې له لرګی دی وسله اسونه سخر وطی خو لی د کاسیانو کولتور ښیی.

د کاسی په نامه په غو ر او ګو ته کی سر اکز او قامونه شته چه پښتو وایی.

دقیس عبدالرشید نوم عربو نه کاسی نه جوړ کړی دی. چه کاسی دقام نوم دی. دقیس ددری زامنو نونه پښتو دی. سړ بنیان غر غو ښتیان بیټنیان او ټول څو ځات یی د بړیخ شینو اری.

او رمړ، کند زمند، غوریا، ښخی، ګګیانی، مهمنزی — وتمانخیل، مو مند، ترکانی، مندړ، یوسفزی ګدون، منصور سره نور او نور ټول کاسیان دی تر دی ځایه مو نږ پښت قام او دهغه دوه څانګی (سهاکڅ — او — کاسی) و ښو دلی.

پښتون هم په پښت کی معرفی شو. او س باید دقام ژ به (پښتو) معرفی کړو.
دلته همد و مره ویل پکار دی چه له لس زرو کالو رادی پلوچی پښت ــ سهاک ــ کاسی دخپلو تولو ځانګو او قبایلو سره په اریاو رته ــ بخدی ــ باختر ــ بلخ ــ او پښتو نخوا کی موجودو نو حتمأیی ژبه لرله. او داژ به هر و مرو پښتو ده. مګر څنګه پښتو البته د هماغه وخت پښتو! چی څوک یی دمنځنی ایشیادا ما کنو قومو نو له رجالو، غرونو، دریا بو نو سکو، کتیبو، ژبو له نومو نو اودنیادآثار و څخه لګی. چی څیړل یی علیحده کتاب غواړی.
او د سیمینار په تنګ وخت کښی نه ځائیږی!

دپښتو په ادبی اواجتماعی خواچی څو مره مافکر کړی دی ( پښتو دپښتون قام دتاریخ مسو زیم دی) یوازی همدا خبره چی دقام نوم دقام ژ به دقام ملی خصو صیات له یوی مبدی څخه په (پښت ــ پښتو ــ پښتون او پښتنو لی) یادیږی داپخپله په و ضاحت سره ثبیتوی چی پښتون یو منضبط متمرکز او رانغښتی قام دی دو مره نغښتی چی دنو رو قومو نو نه پکی داخصو صیت ډیر تینګ دی
خو دپښتو په دی بله خواچی( پښتنو لی) ده لږ غږ یدل پکار دی. چی د پښتو قام ــ (سو شل سائیکالو جی) (ملی روحیه) څرګنده او معرفی شی. متأسفانه تر اوسه پښتون دنیاته نه دی معرفی شوی!

میاسیدرسول صاحب رسادخوشحال ددیوان په مقدمه کې چې په پیښور کې چاپ شوی دی داسی لیکی: (دپښتون قلمه دپښتون په معاشره کې دوه معناوی لری ــ پښتو، پښتانه خپلی ملی ژبی ته هم وایی. او پښتو، پښتانه خپل ملی سیرت ته هم وائی. ددنیا په هیڅ قام کې دملی ژبی نوم دملی سیرت په معنی کې نه استعمالیږي. داامتیازي خصوصیت یوازی دپښتون په کلمه کې دی او رښتیاچې پښتو دپښتون قام ټولو ملی خصوصیاتو حاوی ده یعنی عرب، هندي او انګریزانه وایی چې تاکې عربی، هندي او نګریزي پښتانه یانشته خو یوازی پښتانه وایی تاکې پښتوشته یانشته
پښتو یوه ډیره معناداره او جامعه کلمه ده. داد پښتون قام دژوند په هراړخ حاوی ده. نوځکه پښتون بی پښتونشی پاتی کیدای. پښتو دپښتون دملی ژوندعزت شرافت لوړوالې غیرت، او همت یو داسی معیار دي چې پښتون په دی تله تلل کیږي. د پښتون په پښتو کی ننګ سیړانه، شجاعت، میلمستیا، انتقام، سخاوت، عفوه، استقلال، اراده، پت، ملګرتیا، دوستی، سادګی صاف ګویی، حق ویل، بی پروایی، ایثار، قربانی، سیالی او داسی نور ډیر ښه صفات شته.

دپښتون پښتو داسلام نه مخکی هم دپښتون قام دژوند یوه ضابطه ده. او داسلا قبلولو نه وروسته هم دپښتون پښتو قائمه ده. اسلام د پښتو په پښتو ضرور خپل رنګ خیژولی دی. خو بیخی خپله کړی نه ده په هر صورت ـ اسلامی اخلاق د دی قام مزاج ته نژدی وو نو چی م راغی نو اسلا پښتنو به ایر قبول کړ' پښتون من حیث القوم مسلما شوی دی او دا امتیاز یوازی پښتون قام ته حاصل دی. دا امتیاز لا په عربو کی هم نشته. د پښتون قام ژبه هم دمسلمانانو ژبه ده. نو په دی لحاظ (پښتو او مسلمانی یو شی دی).

سو نږ مخکی وو یل چی پښتو دپښتنو دملی سیرت نوم دی. دا سیرت چه پښتون په هر چا کی و وینی که هغه پښتون وی او که نه وی مسلمان او که نه نو پښتانه وایی (ډیر پښتون سړی دی.)

پښتانه په خپلو منځو کی هم وایی. (پلانی ډیر پښتون سړی دی ددی مراد دا نه وی چی سړی ډیر مسلمان دی. بلکه مراد داوی چه داسړی نمونه پښتون دای و دپښتو په مسلک روان دی د ددی دا معلومه شوه پښتانه دپښتنی د نارینتوب الفاظ خپل ملی کرکتر دپاره استعما لوي. چی له اسلامی او پښتنی اخلاقی جوړ شوی دی نو نتیجه دا اراو وته چی «هر پښتون ملسمان دی خو نه هر مسلمان پښتون دی. او نه هر پښتون پښتون دی.)) په یو نمونه پښتون کی علاوه له نورو صلاحیتونو او صفاتو داخو صفتونه ضرور دي سیلمه پال دي وی. بادر دي وي دپښتون دننګ محافظ دی وی. همتناك دی وی دغیرت ساتونکی دی وی پوخ دوست پوخ ملګري دپخی ارادی مالك دی وی ژبه دی یی پښتو وی. رذیل دی نه وی! داخو دساهو او نمونه پښتون او صافو چی مونږ ونو دل. او مدیو عام او ساده پښتون په باب وغږیږو.

سیاصاحب وایی چی پښتانه «سترې مه شی» په ځواب کی (خوار مه شی!) وایی چی پښتانه ددینه معلومیږی چی له مفلسی ډیر و یر یږی خو د سیالی په وخت کی دولت داسی الوزوی چی سړي حیران پاتی شی په ډکه خوله وایی (پیسی دلاس خیری دی) زه وایم چی پښتون ځان له چاکم نه شی لیدلای. دخپل حرمت او درناوي دپاره مال او پیسی ورته هیڅ نه ښکاری. په سیلمه خرڅ هم همدا معنی لری چی دي دپیسی وږی نه دی. دعزت وږی دی. د (خوار مه شی) معنی هم داده چی خوار او ذلیل مه شی. پښتون سپکاوی نشی منلای!

سیاصاحب وایی: پښتون کر کیله دلاس مز دوری دعزت کار ګڼی. مګر کسب هنر او تجارت ته په سپك نظر ګوری زه وایم چی کسبونه په ډیرو قسمونو دی. رذیل کسبونه هم ډیر دی ننني تجارتی په دروغو فریب او قسمونو بنادی. ځکه یی نه خوښیږی پښتون ته (ډرن) و یل

لو يه ګنځاده . ډرن يعنی ډارن. اوداځکه چی دی بهادر او شجاع دی.

مياصاحب وافی— پښتون ښه لښکر دي. خو ښه سپايی نه دی ځکه ضابطه نه منی. بياوايی : ښه فاتح دی، خو ښه منتظم نه دی زه وايم مياصاحب د استعمار او انحطاط عصر ته ګوری ورانده نه ګوری.

مياصاحب وايی پښتون، جمهوريت پسند دي، خپلی دعوی جګړي په جرګه فيصله کول غواړی. ياوايی— پښتون ګنديمار دي. په هر جنبه ښه پوهيږی، زه وايم . ګوند خزب دی اوداجمهوريت سره لازم او له شرائطو څخه يی دی .

ميا صاحب وايی: د پښتون سندری او موسيقی خو ښه ده خو ډم يی بد راځی . زه وايم داځکه چی سندري او موسيقی ملی هنر دي. دی پکې خپله خير ه وينی. مګر په رزالت د پيسو ګټل بی ننګی ده .

بياوايی —د پښتون دين خو ښ دی خو ملاته بد ګوري. زه وايم که په ملاکې تمه ډار او فريب نه وی، خو پښتون دی. او که ملايی د پښتو د باندی کوم ځيز وی نو پښتون ئی نه منی زه وايم چه «ښه کوی» .

ميا صاحب وائی: پښتون سينه ناك دی، خو شرمناکه سينه نشی کولای . دنفس او شهوت په کار تبارزاو تفاخر نه کوی. زه وايم داځکه چی په انی شهواتو پسی سرساتول د در نو خلکو کار نه دی .

بياوايی : پښتون له منافق نه دي. کلك دوست او سخت دښمن دی ، زه وايم داځکه چی يو مو قر انسان هر ساعت رنګ نشی بد لو لای .

ميا صاحب وايی— پښتون جاه پرست دی . خو مطلبی نه دی، دوستی محض د مطلب د پاره نه کوی زه وا يم داځکه چی مطلب اخر ښکاره کيږی .او پيغو رلری. پښتون د اعار نشی قبلولای . !

بياوا يی: پښتون درناوی غواړی— که څوك يی سپکاوی وکړی او دی بدل نشی اخستی نو عمر و نه، عمر و نه صبر کوی. خو اخر خپل انتقام اخلی. په دی شرط که متعدی متکبر وی. او که روغه وشی. او متعدی عذر وکړی نو په روغه هم ښه پو هيږی، پښتون هيڅکله ښځه وارنه کوي، په ښځه سين، دی خو دتجا ت مال ئی نه ګڼی. د ښځی نمايش لوی عيب ګڼی !

مياصاحب وايی— پښتون وطنپرست دي. په ټول جهان ګرځی خو زړه يی په وطن کې وی. خپل سړی وطن ته راوړی که څه هم زمانی پری تيری شی .

سیاصاحب ځینی خبری انتباهی کړی دی چی قام بیدار ه شی. نوځکه یی ساخوا بو نه لازم و نه گڼل !

د پښتنولی فلسفه:

زما په فکر په پښتنولی کې ډیر دو دو نه قوانین اخلاق او د حکم او اداری اساسات داخلیږی چی استقصا یی ډیری پانی غواړی. خو که سونږ وغواړو چی دا ټول دیو عنوان لاندی راولو او په یو اصل و ر ته قائل شو ! نو د پښتنولی بنیاد په (غیرت) و لاړ دی په همدی دلیل چې پښتانه له چا پښتو او پښتنولی نفی کوی .نو و ایی «بیغیر ته» دی غیرت په عربو او پښتو کې په یوشان سوجود و و اسلام هم و ایی غیرت تثبیت کړ دی. پیغمبر (ص) و یلی دی (من لاغیرت له لاایمان له) د پښتنو په نز د (غیرت د سړیتوب معیار دی) غیرتی شخص ذلت حقارت شرم عارا و پیغور نشی زغملای .نو ځکه دغیرت دپاره سر و ر کوی .

«ننگیالی چی یو ځل سخ کا په کوم لوری، بیا هیڅ نه گوری کوهی وی که کړنګ» دغیرت کلمه د پښتنو دپاره دو سره سحر که ده لکه خپله د پښتو پښتون او پښتنولی کلمات چی دی که پښتون ته دی بیغیر ته و وایه لکه چی په ټوك ئی و ولی داعنعنه ساته ډیره قدیمی ښکاری هر څو سره پوه حکیم او فیلسوف پښتون چی وی دغیرت په ځای کښې انحراف نشی کولای . زمونږ و ا کوا لان تل په نطقونو کې د (غیر ملت) خطاب کوی.مونږ ته غیرت په تو ارث پا ته دی . خلك په لاشعوری کې دغیرت دا غیزی لاندی راځی. او و اکوالان هم په عنعنوی ډول زما غیو رملته خطاب کوی ز ه غواړم چی په شعوری صورت غیرت وڅیړ وم:

غیرت: عربی کلمه ده دهمت او سروت په معنی‘.په عربی کې په خپل زوج او زوجه باندی غیرت کولو ته وائی. ښځی په میړه او میړه په ښځه غیرت و کړ دا معنی لری چی دبل چا مداخله ئی پکې ر داو نفی کړه او له خپل حق څخه یی دفاع و کړه . و روسته پکې توسع شوی او دخپل حق نه د دفاع ځای ته نقل شو یده خپل حق سادی وی که معنوي . شخصی وي که اجتماعی. نو دفاع له کور کلی پولی پټی‘قام ټبر وطن او حکوست او دار نګه دفاع د خپل ناموس شرم حیا له خپلی ژبی قوسیت دین ائین دو ددستو ر ر و ایاتو او له خپلی ټولنی او جمعیت څخه دا ټول په کی داخلیږی .

قوسونه او سلتونه په ابتدائی او ناستمر کز حالت کې و ړاندی فکر نشی کولای یادا چی شرایط یی و ړاندی فکر ته نه پر یږ دی . خو ستمر کز او شعوری قوسیت او سلیت

لوي او عالي هدف ته متوجه کيږي. دغه وخت حيا، ناموس، درناوی او حرمت اجتماعي شئونو اقتصادي، خواؤ او سياسي مسائلو ته وراړوي .

نو دغه وخت غيرت داحساسيږي چې شخص دملت او اجتماع په قوت خپل اجتماعي اقتصادي او سياسي حقوق دپردو او اغيارو له لاسه دملت او دولت په نفع خلاص او ازاد کړي . او يو اجتماعي ابرومند ژوند ته ورسيږي .

خو دلته هم رسيدلي ملتونه کولتوري استعمار او ابتدايي ملتونوله اقتصادي تعدي څخه زيات شکايت کوي. او رښتيا چې (کولتور دملت ساه ده. او اقتصادي غذاده، اول ژوند دی او بيا خوند .

کولتور دتاريخ دادوارو سولودی. دا کار نه په تعليم او تربيه کيږي او نه په پيسو لاس ته راځي. له کولتوري خو او يل شوی ملت محوه کيږي. او سم دريدای نشي، که کوم شخص او ملت غيرت نه لري له ځانه دفاع نشي کولای. حتماً بايد مستعمره شي !! او په پای کې محوه !!

مونږ د پښتنولی په چاپ شوی کتاب کې تقريباً په ۵۰ عنوانونو بحث کړی دی. چې دا تول دغيرت له کلمې څخه لاندې کيږي .

وګوری غيرتي خود داد بخضيت خاوند او سيرني سړی تورزن بادراو سيال وی چې پيغور نشي زغملای نو داسي شخص ياسيدان ګټي او يا په کې سري. سپک او بی اهميته ژوند نه خوښوی ! غيرتي شخص، عدل او انصاف له لاسه نه ورکوي، نتواني کلمه د ننول نه جوړه ده چې سړي په عذر دچا کورته ننوزی نو غيرتي انسان يي عذر قبلوی او عفوه ورته کوی.

ښځي په جنګ کې مصوني دی – ځکه چې يو غيرتي او باشهامته شخص څنګه کولی شی چې ښځه يعنې دکور سيرمن دامن او و داني سمبول دحسن جمال، سينې او محبت مظهر په توپک ولي او په دی اقدام دخدای قهر او دفطرت غضب ځان ته راواړوی او دسړيتوب او تمدن نه بغاوت مرتکب شي، دښځانو سينت هم دساها او شريف انسان کار دی چې ښځه وی او ښځه ته اطاعت و نشي، نظم او دسپلين به چی دسوسائتی دحفظ شرط دی څنګه وساتلی شی .

انتقام هم دسړينو کار دی که ستمرد په سزا او نه رسول شي جامعه ړنګيږي . جرګه دسړو نو او سړو کار دی. چی خپل مطلب په دلايلو او سوسائټی په قوت سخګي بيايي نه په شخص

قوت اوتمر د. ر و غه چی په پښتنو کې اصول لری. لکه جنګ یی چی لری همنتاك اواصولی سړی هم په جنګ پو هیږی، هم په ر وغه. یعنی صلحه. تیږه دسولی پسی دو همقدم دی تیږه یو عهد دی چی تر سعین و خته پو ری دوه دښمنان یو پر بل تعرض نه کوی که نه نو ناغی لاندي راځی. چی د قوم په جر ګه اړه لري.

امیاندار—پښتانه و ائی پلانی، کلك غیرتی او ایمان دار سړی دی. در وغ نه وایی خیانت نه کوی. چل نه جو ړ وی لوظه نه ماتوی، چی هو ئی وکړه، نه. نه وایی. و رنه مه ډاریږی. دلاری سړي دي!!! دځان عزت لو ړ همتی ازادی حریت او مساوات دغیرتی انسان کار دی. که خوك دبل چاقدر کوی په حقیقت کې دځان قدر کوی. همد ارنګه غیر تمن سړی د چا غلامی نشی کولای! دخپل حرست د ساتلو دپاره غرو ر تکبر او تفوق طلبی نه کوی!

مخامیلمه پالنه، میلمستیا په میلمه غیرت بدر ګه دسیمی احترام دغیر تمنو پښتنو خاصه ده. په میلمه کې اشنایی او نااشنایی فرق نه لری. پاکی، عفت هم له غیرته پیدا کیږی چی خپل ناموس و ر ته ګر ان وی. دبل ناموس هم ور ته ګر ان وی. اتفاق ساد ګی ناموس مستقیماً په غیرت پو ري تړ لی دی! پښتانه ډو ل سینګار دښځو خاصه ګڼی! دسړی ګاڼه سړ یتوب او میړ انه ده.

غزامقدس جنګ دی. چه په دین باندی دغیرت دپاره کیږی! او پښتانه پکی له سر او مالـه تیریږی! دین اجتماعی اصول دی پښتانه اصولی خلك دی له دینه دفاع ګو یاله خپلو اصولو شعائرو. او ناموس څخه دفاع ده! پښتانه دین دناموس په ستر ګه ګو ری! داړه، او چیاو ددوی دجنګ اصول دی چی دنیاله دوی زده کړل!

دنسل او ر و ایاتو ساتنه دکو لتو رساتلو پو ری اړه لری. بی کو لتوره ټولنه کی غزت او حرست نه ساتل کیږی. دپوخ عمر نکاح، دقوی نسل پیدا کولو شرط دي. ضعیف نسل د بیغیر ته انسان غو ندی دهیڅ شی نه دی. سړي که جسما کمزو ری وی اخلاق یی هم کمزو ری وی بیانو دهری په باب دایو ټکی و ایی (چی فرق سی کند) او تیر یږی!

دښځو وظائف په عائله کی: دپښتنو ښځی هم پښتنی دی دسړه د اوږو با رنه دی ښځی د نارینه ؤسره بر ابر او کله و رنه در انه وظایف په غاړه لری. او داوظائف تقسیم دی. دکو ر سامانول او لادپښتو ن اوسر سخته رو زل. پخلی، کالی، ګنډل و ینځل، میلمه پالل یعنی دخو راك تهیه کول لو شل، شاربل دښځو کا رو نه دی.

پښتنی روایات او پښتو ژبه سوچه ساتل منلو نه لاړی او نیمگی دپښتنو ښځوادبیات دی
پښتنه ښځه دمیړه حیا، ناموس، محافظه او دومره وفا داره ده چی ځینی ښاری شوی خلک
او رنشی کولای! اساسی تمدن هم همدادی. او دا روایات ډیر پخوانی او محکم دی !! رښتیه
بویل خلک نه غولول محتاج سره سرسته کول او خپل اهمیت ټینگول دقوم د ضرر وریا تو
دپاره بسپنه او اعانه ورکول، دجائز مرام دپاره گوندتقویه کول چی استبداد رانشی د
ښځی او میړه تر منځ متقابل احترام او که میړه مړ شی، گوندتون کول او د اولاد دپاره
سر سپینول چی اولاد دپالندر لاس ته پاتی نشی! داټول دمقدس (غیرت) لوازم دی! های مقدس
او شریفانه اریایی اصول چی دنیایی مثال نشی ښودای !!!
او س به معلومه شوی وی چی غیرت دفردی او اجتماعی ملی او دولتی شئونود ساتلو او د
جامعی د ټینگتیا او د نیکو اخلاقو او سړیتوب اساسی ټکی او بنیاد دي !!!
غیرت په یو قام کی انجکشن کیدی نشی . دایو توارث دی. سوونه او زر گونه کاله
باید تیر شی چی له نسل نه نسل او له عصر نه عصر ته منتقل شی. دو دونه او روایات دغو ما
چاڼ ، تصفیه، پاخه او مستحکم شی!!!! توارث نه زر ټینگ یږی او نه زر محوه کیږی!
غیرت زما په توجیه له (غیر) څخه جوړ دی چه دقام ملی مشخصات او ممیزات - ورپوری
اړه لری قام د مشخصاتو او ممیزاتو مولود دی. که دا حفظ نشی اجتماعی گډوډی پیښیږي د غیرت
ساتل د ژوند او ترقی او بی غیرتی دیوه ملت د مرگ او اضمحلال موجب او علامه.
ستعمار کوشش کوی چی اول یو قام بی غیر ته او ارجل کړی او بیائی په اسانی سره وخورده
پښتانه یو ازی هغه قام دی چی دي حال ته (چه فرق مبکند) نشی ویلای ، . نو ځکه بی په ي
خپل اصیل تاریخی کولتور منگولی لگولی او و رباندی ټینگ دی! و گورو چی خدای
څه کوی !!!!

قیام الدین خادم ۱۰ دعقرب ۱۳۵۴ خادم مینه کابل افغانستان ٥٥٥٥ !